سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۲ / ۰۵ / ۳۱

# غزل

ننداره د ګلو وکړه چې بهار ځي
هر شيبه يي ديدن وکړه درنه يار ځي
د ديدن وخت تر ابده پورې نشته
ديدن وکړه که نه وخت دې د ديدار ځي
ژوند بيا نشته دا يو څو شيبې فرصت دی
دا شيبې هم ډيرې کمې دي په شمار ځي
هيڅ باور په سرخوړلي عمر نه شي
د بريښنا غوندې په بيړه په تلوار ځي
د فلک د بېرحمی په وژلتون کې
د مرګي په لور ياران قطار قطار ځي
نيکمرغي به هغه ولس تر لاسه نه کړي
چې يي اوښکې د نجونو په رخسار ځي
برخليک د داسي خلکو جهنم دی
چې په ژوند د ملايانو په ګفتار ځي
مرګي هسې ککرۍ کړې خاورو لاندې
چې تر ډيره به يي ولسونه په مدار ځي
چې په مينه د وطن کې وي وتلی
په سرونو کې همغه سر په دار ځي
چې د ښو ملګرو ياد مې را په زړه شي
هم له زړه نه، هم له سترګو مې خونبار ځي
د يارانو په بندار مې زړه ترلی
زړه مې کله د يارانو له بنډار ځي
ساقي بله پياله ډکه کړه تر مورګو
چې په بيړه مې له سترګو نه خمار ځي
د ۲۰۲۲ کال د مۍ ۳۱ مه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ